# د ملګرى ضيا په باره‌کى

جاشوا موفودپال
ژباړه: شعله‌جاوید

لکه څنګه چې زموږ ډيرى لوستونکي خبر دي، د افغانستان کمونيست (مائوئيست) ګوند ملګرى ضيا پدې وروستيو کې وفات سو. ملګري ضيا نه يوازې د افغانستان کمونيست (مائوئيست) ګوند د مرکزي کميټې صدر وو، بلکه په افغانستان کې يې د نوي مائوئيستى غورځنګ په بيا رغونې او رامينځته کولو کې هم ارزښتناک او بنسټيز او نړيوال مائوئيستى غورځنګ په جوړولو کې يې هم مهم رول لوبولى دى. ضيا نه يوازې د نړيوال انقلابي غورځنګ په جوړولو کې فعال رول لوبولى - چې اوس شتون نلري - بلکه د امريکا د انقلابي کمونيست ګوند د روزيونيزم چه د نړيوال انقلابي غورځنګ د انحلال لامل سو، پروړاندې د نړيوال انقلابي غورځنګ ښخوانى غړى ګوندونو سره په همغږي او اتحاد کې په خطي مبارزه کې هم بسيج کونکى او لارښونه وګړه.

په حقيقت کې، د متحده ايالاتو د انقلابي کمونيست ګوند «نوي سنتيز» پر وړاندې دوه لوى غبرګونونه يو د ملګري ضيا او بل د «اجيت»[1] لخوا ليکل سوي. له هغه وخته، د افغانستان کمونيست (مائوئيست) ګوند د نوى نړيوال مائوئيستى تشکيلاتو بيا جوړونى لپاره هڅې د ستاينې او د يادونى وړ دي، د نړى په کچه مائوئيست ګوندونو له خوا د خواخوږى پيغامونو، حتى هغه ګوندونو چې د افغانستان کمونيست (مائوئيست) ګوند له دوى سره يو لړ ايډيالوژيکه مبارزه درلوده، څرګنده ده.

دا جوته ده چې زه ملګري ضيا په شخصي ډول نه پيژنم، ځکه چې ما هيڅکله افغانستان ته سفر ندى کړى او د مائوئيست غورځنګ د ملاتړ کونکي په توګه، زه هيڅ دليل نلرم چې د افغانستان په خير اشغال شوي هيواد کې د پټ انقلابي ګوند مشر سره وګورم. مګر زه د نړيوال کمونيست غورځنګ پلويان او اړيکې، او هغه ملګري چې افغانستان ته تللي و، د افغانستان کمونيست (مائوئيست) ګوند په اړه خبر درلود، او ما د دوى ځينې مرکې او برنامې کوربه توب کړې. زه د افغانستان د کمونيستى غورځنګ پرمختګ نه او هغه خلکو چې هلته سفرونه کړي دي، خبروم. ما وسو کولاى چې خپل لومړنى کارونه زموږ د اړيکو له لارې هلته خپلو ملګرو ته واستوم. زما کتاب «تداوم او ګسست»[2] د امريکا انقلابى کمونيست ګوند پر وړاندى د افغانستان کمونيست (مائوئيست) ګوند انتقاد څخه خپل سرليک اخلي. ما د ملګرى ضيا د ليکنى يو له مهمو نقل ولونو څخه د خپل کتاب سريځه کى راوستى دى. په حقيقت کې ضيا ليکنه، د مارکسيزم- لينينيزم- مائوئيزم په علم کى ديالکتيکى پرمختګ په وضاحت سره بيان کړى دى.

په هر صورت، د ملګري ضيا له مرګ څخه څو مياشتې دمخه، ما د «بهرني ژبې خپرونکي [FLP]» سره چې زما په کوچني کتاب «مائوئيستى منطق نقد»[3] باندى يو شرحه ليکو لپاره مشوره کړى وه. د افغانستان کمونست (ماويست) ګوند سره زموږ د اړيکو له لارې اړيکه ونيوله. دا د انقلابي سازمان لپاره خورا ډير معنى لري چه دا ډول کتابونه ولولي او په اړه يې بياکتنې او نقد وليکى؛ ما فکر نه کاوه چې زه به ځواب ترلاسه کړم.

لکه څنګه چې ما او د «بهرنۍ ژبې خپرونکي FLP» د -کتاب لمړی چاپ- اخری نیټې څخه دمخه د افغانستان کمونیست (مائوئیست) ګوند لخوا څواب ترلاسه نکړ کتاب پرته له شرحی خپور سو. د کتاب له خپریدو سمدستي وروسته، د افغانستان کمونیست (مائوئیست) ګوند له خوا زما په کتاب د ملګری ضیا په قلم لیکل سوی یو لنډه شرحه ترلاسه کړه. دا لومړی ځل و چې زه د ملګري ضیا نوم سره اشنا سوم، زما په کتاب یو لنډه شرحه د هغه لخوا لیکل سوی وه. هغه وخت زه نه پوهیدم چه هغه څوک و، پرته لدې چې هغه د افغانستان کمونیست (مائوئیست) ګوند غړی و. یوازې د هغه د مړینې خبر وروسته ما احساس وکړ چې دا لنډه شرحه څومره معنی او مفهوم لري. ځکه چې په افغانستان کې د ماویست غورځنګ یو مخکښ رهبر د دې کتاب لوستلو ته یی وخت ورکړی وه، یوه لنډه لیکنه یی کړی وه.

که څه هم موږ لیکنه د کتاب له خپریدو وروسته ترلاسه کړه، اما خپرونکي موافقه وکړه چې دا په ویب پاڼه کې خپره کړي او په راتلونکي چاپ کې یې اضافه کړو. د کتاب دویم چاپ د ملګري ضیا د مرګ سره همزمان وسو، او دا د هغه لیکل شوي شرحی اهمیت روښانه کوي. زه ویاړم چې هغه زما د کار نقد او ارزونه کړې، او اوس هم ماته زړه پوری دی چې هغه د ژوند په ورستیو ورځو کی ز ما د کتاب په لوستلو زیار وویسته او سربیره پدی چه ما سره یی بیژندګلوی نه لرله.

زه ویاړم چې د ملګري ضیا وروستۍ جملې او لیکنې زما د کتاب شاته د «څرکندونی» په توګه راغلې دي. زه هیله لرم چې د هغه نه الګو واخلم او د هغه په څیر ژوند وکړم. ما هیله لرله چې په داسې موقعیت کې وای چې له هغه سره مستقیم اړیکه ولرم. له هر سه اړینه دا چه، د مختلفو شواهدو پراساس، او هغه څه چې ما په نړیوال مائوئیستی غورځنګ کې د هغه د مهم رول په اړه ولستل او پوه سوم، د هغه ژوند ما ته الهام بښونکی دی او زه امید لرم چې نور خلک هم له هغه الهام واخلی.

۱۲ جولای ۲۰۲۰

---

۱. اجیت د هند ناګزلباری کمونیست (مائوئیست) ګوند له رهبرانو څخه دی.

2. J. Moufawad-Paul, Continuity and Rupture, Washington, Zero books, 2016.

3. J. Moufawad-Paul, Critique of Maoist Reason, Paris, FLP, 2020.